بسم الله الرحمن الرحیم

# مسلمانان به کله پوه شي چې له کفارو سره همکاري حرامه او پایله یې یوازې خیانت دی

خبر:

ګاړدین د ډسمبر په درېیمه د څارونکو ادارو په حواله لیکي چې هغه افغان اتباع، چې شاوخوا یو کال وړاندې په انګلستان کې د ځای پر ځای کېدو ژمنه ورسره شوې وه؛ تر اوسه د برېتانیا د حکومت ځواب ته په تمه دي او له شکنجې او مړینې سره مخ دی.

تر اوسه هېڅ افغان د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت د افغانانو د ځای پر ځای کولو پروګرام (ACRS) لخوا، چې په جنوری کې جوړ شو، نه دی منل شوی او نه ایستل شوی؛ دوی ادعا کوي چې وزیران «د بې کفایتۍ او بې تفاوتۍ زهرجن» ترکیب ښیي. د دغې ادارې موخه د برېتانیا د سفارت د کارکوونکو په ګډون له هغو افغانانو سره مرسته وه چې د برېتانیا له حکومت سره یې کار کاوه او یا د طالبانو لخوا له جدي ګواښ سره مخ دي.

په ورته وخت کې، ارقام ښیي چې د ACRS سمبالوونکې اداره کې له پینځو تر اوو کارکوونکي کار کوي؛ په دې حال کې چې د اکراین لپاره د دغه ډول ادارې د کارکوونکو شمېر ۵۴۰ دی. سرچینې وایي چې «افغانستان ته هېڅ راز لومړیتوب نه ورکول کېږي».

**تبصره:**

د مسلمانانو پر وړاندې د استعماري غربي هیوادونو دا ډول خیانتونه حیرانوونکي نه دي. الله سبحانه وتعالی مومنانو ته ښکاره خبرداری ورکړی چې له کفارو سره همکاري حرامه ده.

**﴿یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْیَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِیَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِیَاءُ بَعْضٍ وَمَن یَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ﴾**

***ژباړه:*** *«ای مومنانو! یهودیان او نصرانیان خپل ملګري مه نیسئ؛ دوی په خپلو منځو کې سره ملګري دي. او که له تاسو څخه څوک له دوی سره دوستي وکړي، نو دوی هم له هغوی څخه شمېرل کېږي...» [مائده:۵۱]*

د الله سبحانه وتعالی خبرداری څرګند دی. مسلمانان باید هېڅکله دا فکر ونه کړي چې د الله سبحانه وتعالی پر دوښمنانو د باور پایله به ښه وي. له دغو کسانو سره به یوازې خیانت کېږی او خپل کار به ترې اخیستل کېږي. د کفارو اراده همدا ده چې د دوی د اجندا ګټې خوندي او د اسلام ګټې له منځه یوسي. د افغان مسلمانان هم له داسې حالت سره مخ شول لکه د هند مسلمانانو چې د برېتانوي هند پلوي کوله؛ یا لکه د فلسطین ځینې مسلمانان چې د «اسرایلو» په نامه د دوو دولتونو د همکارۍ تمه یې لرله. دوی هم دنیا بایلي او هم اخرت.

موږ له مسلمانانو غواړو چې له الله سبحانه وتعالی سره خپله اړیکه ټینګه کړي؛ هغه سبحانه و تعالی ته رجوع وکړي او هېڅکله د قران او سنتو له باوري او ریښتینو لارښوونو کاږه نه شي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**عمرانه محمد**

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی**

ژباړه: محمد هارون رؤفي